د شهيدانو او معلولينو چارو وزير محترم الحاج ملا عبدالمجيد آخند نيمروز ولايت ته سفر وکړ، هلته يې د مجردو شهيدانو له ورثه وو سره وليدل دهغوی ستونزې او غوښتنې يې واوريدې او ورسره يې يو اندازه نغدي مرسته هم ترسره کړه، محترم وزير صاحب همداراز ډاډ ورکړ چې ياد وزارت به د ځانګړې شوې بودجې ترلاسه کولو سره په ټول هېواد کې د يتيمانو، کونډو او معلولينو د مياشتنې نغدي مساعدتونو د وېش لړۍ پيل کړي